ترتیب کونکی : الحاج داکترامین الدین «سعیدی – سعید افغانی»

۳۱ مارچ ۲۰۲۰

## دحج او دعمره ځنډیدل

استاذ دکتور علي محیی الدین د مسلمانانو د علماؤ د نړیوالي اتحادیی عمومی منشي په دینی فتوای کی لیکی :

په تاریخ کي داسي پیښه نه ده ثبت شوې چي له کبله یي د حج مراسم په کلي ډول ځنډیدلي وي، البته د قرامطه ؤ له کبله څو کاله د حج مراسم ځنډیدلي چي دوی د کرغیړن حکومت په دوران کی د حج مراسم بند کړي و، او په ځیني نورو ښارونو کي د طاعون او د وباء له کبله هم بند شوی وو،

حافظ ابن کثیر په خپل مشهور کتاب البدایه والنهایة کي لیکلي دي، د ۳۵۷هـ کال په مشهورو پیښو کي د ماشري ناروغي په مکه مکرمه کی خپره شوه په پای کي ډیر خلک یکي مړه شول او په همدې کال د حاجیانو اوښان په لارو کي د زیاتي تندي له کبله مړه شول چي مکي مکرمي ته ډیر لږ شمیر کي ورسیدل او هغه هم اکثره یي د حج د فریضي د اداء کولو څخه وروسته مړه شول، په کال ۲۰۰۹م کي کله چي د انفلونزا (H1_N1) ناروغي خپره شوه د حج د ځنډولو ځیني فتوګاني را ښکاره شوي، خو هغه مهال د سعودي حکومت موضوع د فقهي او طبي له اړخه وڅیړله او دې نتیجي ته ورسیدل چي د انلفونزا خطر باوري نه دی نو د حج د بندیدو اعلان یي ونکړ، خو بیا یي هم جدي قدمونه پورته کړل په علمي او فني لحاظ یي اجراآت سخت کړل او د بوډاګانو او ناروغانو راتلل یي منع کړل.

سږکال۱۴۴۱هـ چی د ۲۰۲۰م سره سمون خوري د سعودي حکومت د کورونا ناروغۍ له کبله عمره تر نا معلوم وخت پورې وځنډوله تر څو وقایوي اجراآت یي کړي وي.

په کال ۱۳۱۶هـ د حج د ځنډیدلو هڅه وشوه ځکه چي په هاغه وخت کی د کولیرا ناروغي د خپریدولو د فرانسوي استخباراتو له لوري آوازې شوي وی.

د حج د اداء کولو وخت د مستعمرې او اشغال شوي مسلمانانو لپاره ډیر خطرناک و؛ ځکه په عمومي توګه حاجیان به د علماء او مفکرینو او د اسلامي پوهنتون د داعیانو سره لیدني کولي نو ځکه د فرانسي استخباراتو آوازه واچوله تر څو د مستعمرې مسلمانان و ډار کړي او حج ته ولاړ نشي.

سید محمد رشید رضا د مصر هیواد د موقف یادونه کړې او ویلي یي دي: په مصر کی د وزیرانو ځانګړی مجلس دائر شو تر څو د حاجیانو د حج څخه د منع کولو موضوع وڅیړي چي ګوا کي حاجیان به د حجاز څخه مصر ته وباء را انتقال کړي، خو دا چي حج د دیني ارکانو څخه یو رکن و او د دیني چارو سره یي اړه درلوده نو ځکه یی د وزیرانو

مجلس پریکړه نه شوه کولای ترڅو چې یې د دینی علماؤ څخه فتوا او موافقه نه وي اخستی، نو ځکه د وزیرانو د مجلس مشر د مصر د قاضی ، شیخ ازهر، د مصر مفتي، شیخ عبد الرحمن النواوي، د حقانی مفتي، شیخ عبد القادر الرافعي او د علمي مجلس پخواني رئیس څخه وغوښتل تر څو مجلس کې ګډون وکړي ، کله چې یې مجلس کې ګډون وکړ او مجلس په خپریدو شو، د دې فتوا د لیکلو لپاره سره راټول شول تر څو یې د وزیرانو مجلس ته ولیږدي، فتوا یې په لاندیني متن تحریرکړه: « الحمد لله وحده.. لم يذكر أحد من الأئمة من شرائط وجوب أداء الحج عدم وجود المرض العام في البلاد الحجازية، فوجود شيء منها فيها لا يمنع وجوب أدائه على المستطيع »

(الحمد لله .. هیڅ یو امام د حج وجوب د اداء کولو لپاره د حجاز په سیمه کې د عامي ناروغی نه شتون شرط ذکر کړی نه دی ، نو که لږه ناروغي شتون هم ولري د توانمند لپاره د حج اداء کول نه منع کوي.

بناءً که څوک د حج د اداء کولو اراده لري که څه هم مرض موجود وي توانمند کولای شي چې حج فریضی لپاره ولاړشي.

البته هغه شرعي نهي چې د وباء ځمکي ته د تللو څخه منع کوي، ورڅخه هغه حال مراد دی کله چې ورسره په مقابل کې یو قوي شی مخامخ نه وي او دلته ورسره د حج قوي فریضه مخامخ ده، او همدا موضوع زمونږ د علماء کرامو په خبرو کی شتون لري.

دا (مصری فتوا) فتوا په ۲ ذی الحجة کال ۱۳۱۶هـ کی ولیکل شوه.

هذا والله أعلم،

والحمد لله رب العالمین

خو راجح نظر دا دی چې کله که وباء په یقیني توګه یا هم په غالب ګمان خپره شوي وي او د تجربه لرونکو او متخصصینو له خوا تائید شوي وي چې ټول حاجیان یا ځیني حاجیانو ته د ګڼې ګونې له امله ناروغي رسیږي نود عمرې او د حج د اداء کولو مراسم په لنډمهاله توګه او د اړتیا سره سم منع کول جایز دي.

د فقهاؤ په اتفاق د لارې د ویرې په مهال د حج پرېښودل جایز دي، بلکه توامندي د لارې امن او امان پورې تړلی ده، نو ځکه وبایي ناروغی د حج او عمرې د ځنډیدو لپاره یو مباح عذر بلل کیږي البته باید د ناروغی څخه خوف او ویره په غالب ګمان شتون ولري، او د دې پریکړې کول د متخصصینو ډاکترانو مسؤولیت دی، چې دځنډولو فرمان به د سعودي عرب د حکومت لخوا صادریږي.

خو که حج او عمرې ته تګ د سعودی حکومت لخوا منع نشي، نوحج ته تګ یا نه تګ پریکړه به بیا هغه هیواد ته سپارل کیږي چې وباء ورپکې خپره شوې ده تر څو حج یا عمره وځنډوي او کنه. تر څو وباء یا طاعون نورو حاجیانو ته انتقال نکړي.